د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت

# پرمختيا

اوونيزه

۹۲ مه ګڼه • پنجشنبه • د زمرې ۱۰مه • ۱۳۹۸



۸

# په خوست کې د ۸۲۲ مېليونه افغانيو په ارزښت د ۲۴۷ پروژو چارې پيل شوې او ۴۵ نورې پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې

د هيواد د خپلواکۍ د سلمې کليزې په وياړ د کليوالي صنايعو نندارتون پرانستل شو

۲



# د هیواد د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیوالي صنایعو نندارتون پرانستل شو

د هیواد د خپلواکۍ د سلمې کلیزې د نمانځلو په ویاړ د کلیوالي صنایعو رنګین نندارتون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنل مجیب الرحمن کریمي، د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو د ادارې د عمومي مشر عبدالوحید قتالي، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر نصیر احمد دراني له خوا د کابل په چهلستون بڼ کې پرانیستل شو.

دا نندارتون به ددریو ورځو لپاره(۹-۱۱ زمري) د نندارچیانو پر مخ پرانستي وي، چې په کې د هیواد متشبثینو او په ځانګړي ډول ۱۸۰ تنو ښځو متشبثینو خپل لاسي او وطني تولیدات په ۲۰۰ نندارېزو غرفو کې ننداره او خرڅلاو ته اېښي دي. په نندارتون کې ۱۹۰ نندارېزې هټۍ

(غرفې) د لاسي صنایعو او ۱۰ نورې د خوراکي توکیو دي.
دا د هیواد په کچه لومړنی نندارتون دي چې متشبثو ښځو په کې له ټولو ۳٤ ولایتونو څخه برخه اخیستې او خپل لاسي توکي او نور تولیدات یې خرڅلاو ته ایښي.











# د میرمنو په اقتصادي وده کې د کلیوالي انرژۍ رول په نوم ورکشاپ جوړ شو

۱۳۹۸/زمري/۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د تلپاتې انرژۍ پروګرام له لوري سرحدي ولسوالیو ته د لمریزې برېښنا رسونې پروژې په چوکاټ کې ۷۰ میرمنو ته د یو ورځنې ورکشاپ رسمي پرانیسته وکړه.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د ورکشاپ د پرانېستې په غونډه کې وویل، د لېږې

پرتـو سـيمو خلـك د ژونـد ګڼـو اسـانتياوو تـه لاسرسـي نـه لـري او ميرمنـې يـې لـه سـخت ژونـد څخـه کړيـږي، نـو مونـږ هڅـه کـوو چـې د بيلابيلـو پـروژو لـه لارې د مېرمنـو پـه ژونـد کـې ښـه والـي راولـو.

د کليـو بيارغونـې او پراختيـا وزيـر زياتـه کـړه، چـې کليوالـو سـيمو د برېښـنا رسـونې پـروژه بـه د د هېـواد پـه ۱۳ ولايتونـو کـې څـه کـم پنځـه سـوه زره کورنيـو تـه برېښـنا برابـره کـړي، چـې د مېرمنـو پـه ژونـد بـه مثبـت تاثيـر ولـري.

پـه دې ورکشـاپ کـې لـه کليوالـي متشـبثو مېرمنـو څخـه د دوي اړتيـاوې او غوښـتنې هـم پوښـتل کېږي، تـر څـو پـه کليوالـي سـيمو کـې د برښـنا رسـونې پروګـرام داسـې برېښـنايي کڅـوړو برابـرې کـړې، چـې د دوي کاروبـار تـه وده ورکـړي.





# په دایکنډي ولایت کې ۳۸۳ پرمختیایي پروژو کارونه روان دي

۱۳۹۸/زمري/ ۵

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي په خپل کاري دفتر کې د دایکنډي ولایت له والي انور رحمتي سره د یاد ولایت د ستونزو د اوریدو په موخه ولیدل.

د لیدنې په پیل کې د دایکنډي والي د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پلي شویو پروژو څخه خوښي څرګنده کړه، چې د کلیوالو په ژوند یې جوت اغېز کړي او ورپسې د خپلې سیمې ستونزې او غوښتنې د کلیو بیارغونې او پراختیا له وزیر سره شریکې کړې، چې د کاریزونو جوړول، د ولسي تړون ملي پروګرام نورو ولسوالو ته غځول، د ښوونځیو د ودانیو نشتون او د ترانسپورتي لارو جوړول یې مهمې هغه وې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وویل: « سږ کال به په دایکنډي ولایت کې ۳۸۳ پرمختیایي پروژې په بېلابېلو سکتورونو کې پلي شي او د دې ترڅنګ به د ولسي تړون ملي پروګرام په نورو پړاونو کې د دایکنډي ټولې ولسوالۍ تر خپل پوښښ لاندې راولي.»

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، په دایکنډي ولایت کې به کلیو کې د مېرمنو د کورنۍ اقتصاد پیاوړتیا پروګرام پیل شي، چې څه کم اووه زره خلک به تر خپل پوښښ لاندې راولي، د دوی لاسي صنایع به پیاوړي کړي او په کور دننه به ورته کاري.



# د ننگرهار په خوګیانیو ولسوالۍ کې د څه باندې ۱۸۰کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۸ - زمري - ۱۳۹۸

کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولوملي پروګرام له لوري د ننگرهار ولایت د خوګیانیو ولسوالۍ په «لوي کلي وزیر» کې د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه د ۲،۷٤۷،۹۰۹ افغانیو په لګښت سره چې د یونیسف اداري لخوا ورکړل شوې جوړه او د خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د اوبو رسولو د دغې پروژې د جوړولو په چارو کې د ځایي خلکو لپاره شاوخوا ۱۲۰کاري ورځې ایجاد وې او په بشپړېدو سره یې د څه باندې ۱۸۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې او صحي اوبه برابرې شوې.

# په ننگرهار کې د ۸۷ میلونو ډالرو په ارزښت د ۱۵ ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۸/ زمري/ ۱۳۹۸

د ننگرهار ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون د اقرا پروګرام له لارې د څه باندې ۷۸ میلونو افغانیو په لګښت د ۱۵ ابتدایه ښوونځیو جوړولو کار پیل شو.

دغه ښوونځي چې ددریو میاشتو په اوږدو کې به د نجونو او هلکانو لپاره جوړ شي هر ښوونځي به یې ٦- ۸ او یا هم ۱۰ ټولګي، تشنابونه اود څښاک د اوبو څاه ګانې ولرې چې تر بشپړتیا وروسته به یې په یوه وړ چاپیریال کې زده کونکو ته د ښوونې او روزنې زمینه برابره شي.





# په خوست کې د ۸۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲٤۷ پروژو چارې پیل شوې او ٤٥ نورې پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

۱۳۹۸/زمري/٤

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي خوست ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۵۹۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲٤۷پروژو چارې پیل کړې او د ۲۲٤میلیونه افغانیو په ارزښت یې ٤٥ پروژې په بېلابېلو سکتورونو کې ګټې اخیستنې ته وسپارلې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر په همدې اړه جوړې شوې غونډې ته وویل، ۲٤۷ پروژې چې نن یې چارې پیل شوې، ۱۵ په کې د څښاک اوبو او کرنیزو ځمکو د اوبو کولو، ۲۱ نورې

پروژه‌هـای سرک‌سـازی، دیوارهـای اسـتنادی و سـاخت پلـی بـه طـول ۱۲۰ متـر در ولسـوالی بـاک شـامل می‌شـود و از جملـه پروژه‌هـای افتتـاح شـده، کار ۲۱۰ پـروژه از سـوی برنامـه ملـی میثـاق شـهروندی بـه گونـه‌ی رسـمی آغـاز شـده اسـت.

جنـاب کریمـی افـزود: «در کنـار این‌هـا، امـروز ٤٥ پـروژه‌ی انکشـافی بـه ارزش ٢٢٤ میلیـون افغانـی بـه بهـره بـرداری سـپرده می‌شـود. در ایـن پروژه‌هـا تطبیـق ۱۸ پـروژه‌ی آبرسـانی و آبیـاری، پنـج پـروژه‌ی سـاخت کاریـز و پلچک‌هـا، پـروژه سـرک کاروان سـرای و پـروژه‌ی سـاخت دو سـرک و پـل شـامل می‌شـود کـه سـرک اول ۱۱ کیلومتـر و پـل اتصالـی ۸۰ متـر طـول داشـته در ولسـوالی زازی میـدان سـاخته شـده اسـت و طـول سـرک دومـی کـه در ولسـوالی تنـی بـه بهـره بـرداری سـپرده می‌شـود، ۲.۵ کیلومتـر اسـت.»

در ادامـه وزیـر احیـا و انکشـاف دهـات در مـورد برنامـه میثـاق شـهروندی گفـت کـه هـم اکنـون کار ۲۱۰ پـروژه‌ی ایـن برنامـه بـه ارزش ۲۲۰ میلیـون افغانـی در ولسـوالی‌های گربـز، اسـماعیل خیـل، نادرشـاه کـوت و مرکـز خوسـت جریـان دارد و ۱۹ پـروژه‌ی دیگـر بـا ٤٥٨٠٠ مسـتفید شـونده، تکمیـل و بـه بهـره بـرداری سـپرده شـده اسـت. گفتنی‌سـت کـه برنامـه ملـی میثـاق شـهروندی در مراحـل بعـدی، تمـام ولسـوالی‌های ولایـت خوسـت را تحـت پوشـش قـرار خواهـد داد.





# په ننگرهار کې د ٤٦٩ متره استنادي دیوال کار پیل شو

۵/ زمري/ ۱۳۹۸

د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارات د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له خوا د ننګرهار د دره نور ولسوالۍ په کشمنډ کلي کې د ۸.۷ میلونو افغانیو په ارزښت د ٤٦٩ متره استنادي دیوال د جوړولو کار پیل شوي دي په پام کې ده ددغه دیوال جوړولو چارې په ۳ میاشتو کې بشپړې شي چې ورسره به ۵۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه د نیزونو او سیلابونو له ګواښه خوندي شي.

